<u>**مطبوعاتي اعلاميه**</u>

**د غزې او فلسطين ملاتړ د پوځ لوی او مهم شرعي مکلفيت دی**

(ژباړه)

د ترکيې وسله‌وال ځواکونه په نړۍ کې لسم او د پاکستان وسله وال ځواکونه اووم پياوړی ځواک ګڼل کېږي. د پاکستان نفوس ۲۵۰ ميليونه دی او غوڅ اکثريت يې مسلمانان دي؛ هغه مسلمانان چې پر اسلام او د اسلام په دې لاره کې پر شهادت وياړي؛ د هند پر وړاندې يې جهاد هم کړی.

پاکستان د عمان له پلازمېنې، مسقط - چې له هغه ځايه غزې ته د ځمکې لار شته- څخه د سمندر له لارې شاوخوا ۸۰۰ کيلومتره لرې دی. لويديځ لوري ته پاکستان له افغانستان سره پوله لري، چې اوږدوالی يې شاوخوا ۱۳۰۰ کيلومتره دی؛ افغانستان بيا په شمال کې له درېيو نورو هيوادونو؛ تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره ګډه پوله لري. پاکستان د پياوړی اټومي ځواک څښتن دی او له دې اړخه د نړۍ په پنځو لويو هېوادونو کې راځي؛ د دې تر څنګ د اټومي څېړنو په برخه کې ډېر ماهرين او ساينس پوهان لري.

**د پاکستان د وسله والو ځواکونو ګرانو افسرانو او سرتېرو!**

الله سبحانه وتعالی تاسو تاته هر ډول قدرت درکړی؛ د نړۍ اووم ستر وسله وال پوځ، ۲۵۰ ميليونه مسلمانان او اټومي ځواک لرئ. دا ټولې وړتياوې تاسو ته دا قدرت درکوي چې ځان د اسراء او معراج ځمکې، د فلسطين سپېڅلې خاورې ته ورسوئ. دا وړتيا لرئ چې څوک مو مخې ته ودرېږي، لرې يې کړئ او بيا له اشغالګرو يهودو سره وجنګېږئ؛ د خپلو وروڼو او خويندو دفاع وکړئ او اشغالګر وشړئ.

«**وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ**» [بقرة: ۱۹۱]

**ژباړه:** *«له هغوی سره هر چېرې چې مخ شوئ وجنګېږئ او له هغه ځای يې وباسئ چې تاسو يې ترې ايستلي ياست...»*

**اې د پاکستان وسله والو ځواکونو!** که مو حرکت وکړ افغانستان به هم درسره يو ځای شي چې څلويښت ميليونه مجاهد مسلمانان لري او ورپسې به د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان لسګونه ميليونه مسلمانان درسره يو ځای شئ. د غزې او فلسطين ملاتړ د ترکيې، الجزاير، مصر او نورو هيوادونو د افسرانو ستر او مهم

مکلفیت هم دی. که دا تاریخي کار وکړئ، تختونه رانسکور کړئ او واک واخلئ؛ پوهېږئ کفري نړۍ به څومره ووېروئ!؟

**اې د پاکستان د پوځ افسرانو او سرتېرو!** تاسو باید په خپل منځ کې سعد بن معاذ رضی الله تعالی عنه ولرئ، چې مرګ یې د الله سبحانه وتعالی عرش ولړزاوه.

**اې د پاکستان پوځي افسرانو او سرتېرو!** راپورته شئ او دوه میلیارده مسلمانان خوشاله کړئ.

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د جمادي الثاني ۱۳مه**

**۲۰۲۳م کال، د ډسمبر ۲٦مه**

**د صدور ګڼه: ۲۷/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**